مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخڑ ۲۰۲۴/۰۳/۱۸

د یهودو عادلانه جګړې

(درویشتمه برخه)

(د اسراییلي، نازي صهیونستي شیطانان بمباری، د فلسطیني معصومو پرښتو وژل)

د یهودو بتپرستي (۲)

هغه مهال چې داؤد د اسراییلو له پاچا (شایول) سره په مخالفت کې ؤ نو هغه د شایول له وړې د بتپرستانو سیمې ته تښتیدلی ؤ، د داؤد په وینا، نوموړي په هغه سیمه کې د بتانو عبادت کاوه، داؤد له شایول سره په خپلو خبرو کې وویل:«ای پاچا! که ته یهوه خدای زما پر وړاندې پاروڵی وې نو قربانې به وکړم ترڅو زما ګناه وبښي خو که ته خپلو کسانو زما پر خلاف لمسولی وې، خدای دې پر هغوی لعنت کړي ځکه چې زه یې د یهوه خدای له کور[1] څخه لرې کړی یم چې **په دې دښته کې د بتپرستانو د بتانو عبادت وکړم.»** (د سموییل لومړی کتاب:۲۶/۱۹)

د داؤد له مړیني وروسته د هغه زوی سلیمان د پاچاهۍ پر ګدۍ کښاست، سلیمان پاچا د بتپرستو قومونو څخه ډېرې ښځې واده کړې او د هغوی د بتانو لمانځل یې پیل کړل، د اسراییلو خدای یهوه دوه ځلې سلیمان پاچا ته ورښکاره شو او هغه یې د بتانو له لمانځلو منع کړ خو سلیمان د بتانو له عبادت څخه منع نه شو، د سلیمان د ګروهې او کړنو په اړه د اسراییلو د پاچاهانو په لومړي کتاب کې راغلي دي چې «سلیمان پاچا د فرعون له لور پرته پر نورو ښځو پورې هم زړه وتاړه، هغه د یهوه خدای د امر پر خلاف د بتپرستو قومونو لکه: موآبیان، عمونیان، ادومیان، صیدونیان او حیتیانو څخه ښځې واده کړې. یهوه خدای خپل قوم په ټینګه سره منع کړی ؤ چې دغو بتپرستو قومونو ته به هېڅکله نه نږدې کېږئ ترڅو د اسراییلو قوم د بتپرستۍ پر لور ونه هڅوي. سلیمان اووه سوه ښځې او دري سوه مینځې درلودلې، دغو ښځو ورو، ورو سلیمان له یهوه خدای څخه لرې کړ، کله چې سپینږیری شو... **نو د بتانو په لمانځلو یې پیل وکړ. سلیمان د صیدونیانو ښځینه خدای (الهه) عشتاروت او د عمونیانو کرکجن بت عبادت کاوه... تر دې چې د هغه غړه**

[1]: د شایول پاچا او له هغه وروسته د داؤد د پاچاهۍ پر مهال په اورشلیم کې د یهوه خدای لپاره معبد نه ؤ جوړ شوی، ښایي د داؤد موخه د خدای له کور څخه د یهوه خدای د عبادت کېږدی وي، دا هم کیدای شي چې په تورات کې د یهودي خاخامانو له تحریفونو څخه یو دا تحریف هم وي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پر سر چې د اورشليم په خټيځ کې پروت دی، د موآب کرکجن بت کموش او د عمون کرکجن بت مؤلک، دوه بُتونونه جوړ کړل. سليمان د خپلو غيراسراييلي ښځو لپاره جلا، جلا بتتونونه جوړ کړل ترڅو هغوی د خپلو بتانو لپاره خوشبويي (بخور) لوګی کړي او قربانۍ وکړي. سره له دې چې يهوه خدای دو ځله سليمان ته ورښکاره شو او هغه يې د بتانو له لمانځلو منع کړ خو هغه د يهوه خدای له امره سرکښي وکړه او له هغه څخه وګرځيد نو يهوه خدای په سليمان باندې په قهر شو.» (د پاچاهانو لومړی کتاب:۱۱/۱تر۱۰پورې)

د سليمان پاچا له مرګ وروسته د اسراييلو پاچاهي د خپلمنځي اختلافاتو له امله په دوو برخو: شمالي او جنوبي هېوادونو ووېشل شوه، جنوبي پاچاهي د (يهودا) په نوم يادېده چې پلازمينه يې د اورشليم ښار ؤ او پاچا يې (رحبعام) د سليمان زوی ؤ چې د اسراييلو معبد په همدې ښار کې ؤ.

د اسراييلو شمالي دولت د (اسراييل) په نوم ؤ چې پلازمينه يې سامره وه او (يربعام) نومی يې پاچا ؤ، نوموړی هېواد د اسراييلو له لسو قبيلو څخه رامنځ ته شوی ؤ.

د دې لپاره چې د اسراييلو شمالي هېواد پاچا يربعام خپل وګړي له جنوبي هېواد (چې په هغه کې د اسراييلو د خدای يهوه معبد هم ؤ) راوګرځوي نو د شمالي هېواد پاچا يربعام **دوه طلايي خوسکي جوړ کړل** وايي چې «يربعام په دې فکر کې شو چې [وروسته له دې به د ده د هېواد] وګړي د يهوه خدای کور چې په اورشليم کې دی د قربانۍ کولو په موخه هلته ورځي، که چېرې دا کار همداسې روان وي، کيدای شي هغوی د يهودا د پاچا رحبعام پلوي غوره کړي، هغه به خپل پاچا وتاکي او ما ووژني. يربعام له خپلو سلاکارانو سره له مشورې وروسته **دوه طلايي خوسکي جوړ کړل** او د اسراييلو قوم ته يې وويل: اړينه نه ده چې د يهوه خدای د عبادت لپاره زيار وباسئ او اورشليم ته ولاړ شی، ای اسراييلو! **دا خوسکي ستاسو خدايان دي،** دغه [خوسکی] وو چې تاسي يې د مصريانو له اسارته آزاد کړئ. **ده [يربعام] د خوسکي يوه مجسمه د بيتېيل په [ښار] او بله يې د دان په [ښار] کې ځای پرځای کړه.** د ده د دې کار له امله د اسراييلو قوم د خوسکيو د عبادت لپاره بيتېيل او دان [ښارونو] ته ورتلل.» (د پاچاهانو لومړی کتاب: ۱۲/۲۶تر۳۰پورې)

د اسراييلو د تاريخ په اوږدو کې د دوی په واکمنانو کې يو شمېر داسې پاچاهان هم رامنځ ته شوي دي چې له بتپرستيو او بتانو سره مخالف وو، دوی به بتان او بتونونه وران کړل خو کله به چې هغوی مړه شول نو راتلونکو پاچاهانو به بيا بتان او بتونونه ورغول او بيا به (هماغه ډول هغه لرګی ؤ.)

د اسراييلو پاچا (يېهو د يهوشافاط زوی) د ځينو بتانو او بتپرستيو مخالف ؤ خو د طلايي خوسکي سره يې مخالفت نه کاوه، هغه د بعل بتان او معبدونه وران کړل، د نوموړي بت عبادتکوونکي يې ووژل او«په دې ترتيب يېهو د اسراييلو له خاوري د بعل ټولې نښې‌نښانې له منځه يوړې **خو د طلايي خوسکي له عبادته لاس‌وانخيست،** د خوسکي دغه بت يربعام د نباط زوی په بيتېيل او دان [ښارونو] کې جوړ کړي وو... .» (د پاچاهانو دويم کتاب:۱۰/۲۸-۲۹)

هوشع چې اسراييل يې خپل نبي بولي، اسراييلو ته د يهوه خدای لخوا د دوی د بتپرستيو له امله د سزا او اسارت په اړه وړاندوينه کوي وايي:«ای د سامری [ښاره!] زه له دغه **خوسکي ډوله بت** چې تاسو جوړ کړی دی بېزاره يم، زما د غضب اور ستا پر ضد بل شوی دی. په څومره وخت کې به ستا په منځ کې يو نېک کس پيدا شي؟ په څومره وخت کې به پوه شئ چې دغه خوسکی چې تاسو يې لمانځئ، د انسان په لاس جوړ شوی دی؟ دا خوسکی خدای نه دی! نو له منځه به يوړل شي.» (د هوشع کتاب:۸/۵-۶)

د يهودا پاچا (حزقيا) هم د بتپرستيو مخالف ؤ، هغه د اورشليم د غونډيو پر سر د بتانو بتونونه ويجاړ کړل او د اشيره شرموونکي مجسمې او بتان يې مات کړل، هغه فلزي منګور (مار) چې موسی جوړ کړی ؤ هم مات کړ ځکه چې تر دې مودې پورې اسراييلو د هغه منګور لمانځنه کوله او خوشبويی يې ورته لوګی کولې، دغه منګور (نحشتان)[2] نومېده.» (د پاچاهانو دويم کتاب:۱۸/۴)

---

[2]: هغه مهال چې د اسراييلو قوم له موسی سره لفظي شخړه وکړه چې ولې دې مور له مصر څخه دغې دښتې ته راوستو نو د يهوه خدای لخوا په مارانو باندې وچېچل شول، هغه وو چې اسراييل موسی ته راغلل ښښنه يې وغوښته او وويې ويل چې زمور لپاره دعا وکړه چې دغه ماران له مور څخه لرې شي. نو «موسی ته يهوه خدای ووېل چې د دغو مارانو په ځېر يو فلزي منګور جوړ کړه او هغه په يو برور (تير) زورند کړه، نو څوک چې منګور چېچلی وي او دغه [فلزي] منګور ته وګوري ژوندی به پاتې شي. نو موسی يو فلزي منګور جوړ کړ او هغه يې په يو برور باندې زورند کړ، نو کله به چې مارخوړلي هغه منګور ته وکتل روغ به شو.» (د شمېر کتاب:۲۱/۸-۹)

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

له دې وروسته د اسراييلو قوم لوی او واړه بتپرستان شول[3]، دوی له خپلو بتپرستو پلرونو څخه هم د بتانو په لمانځلو کې وړاندې ولاړل، تر دې چې د دوی پاچاهانو خپل زامن او لونې بتانو ته د قربانۍ په نوم ژوندي، ژوندي په اور کې وسوځول، په دې اړه ارميا نبي وايي: **«خو تاسي له خپلو پلرونو څخه هم بدکاره ياست.»** (د ارميا کتاب:۱۶/۱۱-۱۲)
د يهودا پاچا (منسا) د حزقيا زوی په اورشليم کې پنځه‌پنځوس کاله پاچاهي وکړه، «منسا د غونډيو پر سر د بتانو بتونونه چې د ده پلار حزقيا وران کړي وو، بيا ورغول، د بعل بت لپاره يې قربان‌ځايونه جوړ کړل او د اشيره شرمونکي بتان يې هم جوړ کړل، منسا د لمر، سپوږمۍ او ستورو عبادتونه کول او د هغوی لپاره يې قربان‌ځايونه جوړ کړل او هغه يې د يهوه خدای د کور په غولي کې ځای‌پرځای کړل، (په هماغه کور او ښار کې چې يهوه خدای تر ابده پورې د خپل نوم لپاره غوره کړي وو.) **منسا خپل زامن د (هنوم) په دره کې د قربانۍ په نوم وسوځول**... تر دې چې منسا يو بت د يهوه خدای په کور کې هم کښنود... منسا د يهودا او اورشليم اوسيدونکي بې‌لارې کړل او له هغو قومونو څخه يې هم ناوړه چارې ترسره کړې چې يهوه خدای له کنعان څخه شړلي وو.» (د پاچاهانو دويم کتاب:۳۳/۳تر۹پورې)
د يهودا پاچا (احاز) چې په شل کلنۍ کې پاچا شوی ؤ او شپاړلس کاله په اورشليم کې واکمن ؤ، د اسراييلو د پاچاهانو تګلاره يې غوره کړې وه او د بتانو لمانځنه يې کوله، هغه د (هنوم) دره ته ولاړ، نه يواځې دا چې بتانو ته يې خوښ‌بويي لوګی وکړل بلکې **خپل زامن يې د بتانو پر وړاندې د قربانۍ په نوم په اور کې ژوندي وسوځول،** دا دود د هغو قومونو ؤ چې يهوه خدای د هغوی ځمکه اسراييلو ته ورکړې وه. آحاز د لوړو ځايونو او غونډيو پر سر د بتونونو او د هرې شنې ونې لاندې قربانۍ وکړې او خوښ‌بويي يې وسوځولې.» (د پاچاهانو دويم کتاب:۱/۲۸تر۴پورې)
په اسراييلو کې د بتانو مخالف پاچا يو هم د يهودا پاچا (يوشيا) ؤ، هغه د خپل پلار او نيکه: (آمون او منسا) د ګروهو پر خلاف کړنې ترسره کړې، يوشيا هغه ټول بتان او بتونونه ويجاړ کړل چې د اسراييلو د واکمنانو لخوا جوړ شوي وو، د اسراييلو د بتپرستۍ کچه د يوشيا له کړنو ښکاري چې اسراييلو تر کومې کچې په بتپرستيو کې ډوب شوي وو «يوشيا پاچا د اوريشلم لوی کاهن حلقيا او نورو کاهنانو او د يهوه خدای د کور ساتونکو ته امر وکړ: ټول هغه لوښي چې د بعل، اشيره، لمر، سپوږمۍ او ستورو د لمانځلو لپاره کارول کيدل له منځ يوسي. پاچا هغه ټول توکي له اورشليم څخه بهر د (قدرون) په دره کې وسوځول او د هغوی ايرې يې بيتيېل ته يوړې. يوشيا، د بتانو کاهنان چې د يهودا د پخواني پاچا لخوا ټاکل شوي وو، ګوښه کړل. دغو کاهنانو د يهودا د غونډيو پر سر ټولو بتتونونه، آن په اوريشلم کې د بعل، لمر، سپوږمۍ، ستورو او [نورو] بتانو ته قربانۍ کولې. هغه د اشيره شرمونکی بت د يهوه خدای له کوره وايسته او هغه يې له اورشليم څخه د قدرون درې ته يوړ ويې سوځاوه او د هغه ايرې يې د لويې هديرې پر مړيستونو باندې وشيندلې. د لواطت کورونه چې د يهوه خدای د کور په شاوخوا کې جوړ شوي وو او ښځو په هغه ځای کې د اشيره بت لپاره جامې اوبدلې وران کړل. پاچا د خدای کاهنان چې د يهودا په نورو ښارونو کې اوسيدل اورشليم ته راوستل او د غونډيو پر سرونو ټول معبدونه چې په هغو کې قربانۍ ترسره کيدلې له (جبع تر بيرشبع) پورې ويجاړ کړل. يوشيا، هغه بتتون چې د اورشليم ښار حاکم (يهوشع) د اورشليم د دروازې چپ لوري ته جوړ کړی ؤ له منځه يووړ. د بتتونونو کاهنانو اجازه نه درلودله چې د يهوه خدای په کور کې خدمت وکړي خو له نورو کاهنانو سره يې کولی شول پتيره ډوډۍ وخوري.
پاچا د (توفت) قربان‌ځای چې د (هنوم) په دره کې ؤ، وران کړ چې بيا څوک خپل زوی يا لور د (مولک) بت لپاره قرباني نه کړي. هغه آسونه چې د يهودا پخواني پاچا د لمر خدای لپاره وقف کړي وو، د يهوه خدای له کوره بهر وشړل او د هغوی ګاډۍ يې وسوځولې. دا د يهوه خدای د کور په انګړ، دروازې ته نږدې او د حجري په څنګ کې د (نتنملک) په مقام کې ساتل کيدل. هغه قربان‌ځايونه چې د يهودا پاچا د (احاز) د مانۍ د بام پر سر جوړ کړي وو، ويجاړ کړل. ورسره يې هغه قربان‌ځايونه چې د يهوه خدای د کور په غولي کې چې (منسی) جوړ کړي وو هم اوجاړ کړل او د هغوی ټولې ذرې يې د قدرون په دره کې وشيندلې.
هغه د اورشليم پر غونډيو ختيځ او سوېل ته د ښونو (زيتون) غره پر سر بتتونونه هم وران کړل.
دغه بتتونونه سليمان [پاچا] د صيدونيانو د ښځينه خدای (عشتاروت)، د موآب کرکه‌اچوونکي بت (کموش) او د عمون کرکه‌اچوونکي بت (ملکوم) لپار جوړ کړي وو.
[پاچا] مجسمې ويجاړې کړې او د اشيره شرمونکي بتان يې له منځه يوړل، پر هغه ځمکه باندې چې بتان پرې ځای‌پرځای شوي وو، د انسانانو پر هډوکو ډکه کړه.

---

[3]:اشعيا نبي وايي:«اسراييل د بتانو عبادت کوي، ستر او واړه د بتانو پر وړاندې ګونډي وهي، خدای به د دوی دا ګناه ونه بښي.» (د اشعيا کتاب:۲/۸-۹)

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

او هغه قربانځایونه او بتتونونه چې په (بیتییل) کې یربعام جوړ کړي وو او د هغوی په وسیله یې اسراییل په ګناهونو کې ښکېل کړي وو له منځه یوړل، د هغوی تیري یې ماتي او د اشیره شرمونکی بت یې وسوځاوه.» (د پاچاهانو دوېم کتاب:۴/۲۳تر۱۵پورې)
د یوشیا له مرګ وروسته د هغه زوی (یهوآحاز) پاچا شو ورپسې د یوشیا بل زوی (الیاقیم) واکمن شو خو دوی دواړو ګناهونه وکړل ... .»

نېټه:۱۴۰۲/۱۲/۲۷ل. ل
نور بیا

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ